## په پښتنه ټولنه د ټیک ټاک اغېزې

**څېړنه: پوهنمل تاج محمد رحیمي**

**لنډیز**

ټیک ټاک د نوي عصر او ټکنالوژۍ هغه وسیله یا اپلیکشن دی،چې په ډېر ه کمه موده کې یې د نړۍ پر هر ګوټ خپل سیوری غوړولی دی.د نړۍ په هره برخه کې مینه وال لري. دا اپلیکشن یا ټکنالوژي په ډېر کم وخت کې د ډېرو خلکو د پام وړ وګرځېدو.په دې وسیله هر څوک کولی شي،ځانله یو اکونټ جوړ او پـه هغې کـې وړې وړې ویډیوګاني جوړې او خپلو مینه والو ته یې ورسوي،په ټیک ټاک کې اسلامي،فرهنګي،ټولنیزې،سیاسي او د ژوند نورو برخو پورې تړلي ټول موضوعات راوړل کېږي.په ځینو هېوادونو کې د همدې لارې پـه میلیونـو ډالر هم تر لاسه کېږي.په اوس وخت کې ټیک ټاک د ژوند یوه برخـه ګرځېدلې ده.ټیـک ټاک پـه پښتنه ټولنـه هم خپل سیوری کړی او ډېرې ځوانان که هغه په لر دي او کـه پـه بـر د دې لارې پـه زړه پـورې ویـډویو ګـاني جـوړوي او خلکو ته یې وړاندې کوي.

**کاریدونکي ویي:** ټیک ټاک،پښتانه،اغیزې،ژبه،پښتو،ځوانان،نجوني،کاروونکي.

**سریزه**

ټیـک ټـاک د نـوي عصـر لپـاره یوه نـوې وسیله ده،د دې لارې د نـړۍ پـه هر ګـوټ کـې د هـرې ټـولنې او فرهنګ خلک وړې وړې تمثیلي ویډوګاني جوړوي او خپلو خلکو او ټولني تـه یـې وړانـدې کـوي.دې اپلیکشن پـه پښتنو او پـه ځانګړي ډول په ځوانه طبقه ډېر اثر کړی دی. د نـړۍ پـه هر ګـوټ کـې پښـتانه ځوانـان ډېـر ي پـه زړه پورې وړې ویډیوګاني جوړوي او خلکو ته وړاندې کوي.کله،چې ژوند پرمختګ کوي،نړۍ ورسره پـرمخ ځـي او خلک له نویو شیانو سره مخ کېږي،چې یوه ښه بېلګه یـې همـدا ټیـک ټـاک ده.د ټیـک ټـاک د موضـوعاتو لمـن ډېـره پراخه ده،چې د ژوند هره برخه په کې رانغاړل کېږي.ډېرې تنکي ځوانان په دې برخه کې کار کوي.پښـتو ادب تـه یې دا ګټه ده،چې د دې لارې دا وړې تمثیلي ټوټې په خپلـه لمـن کـې د پښـتني کلتـور او فرهنـګ هر شـکل او فـورم رانغاړي او ثبت پاتې کېږي.دا نوې عصري وسیله په پښتنو خپلې مثبتې او منفي اغېزې هم لري،ځینې ځوانـان یـې په مثبته توګه کاروي او ټولنې تـه یـې ګټـه وي،خـو ځینـې داسـې ځوانـان او پېغلـې شـته،چې د همدې لارې د نـورو سپکاوی او توهین کوي او خلکو تـه کنزلـې او بـدې ردې وایـي،چې دا یـې پـه پښـتنه ټولنـه ډېـره بـده اغېـزه ده،ددې لامل دا دی،چې څوک نشته،چې دا اپلیکشن وڅـاري او یـا پـرې کـوم محدودیت وي،هر څـوک کـولی شـي،د خپلـې خوښې او د خپل زړه خبرې له همدې لارې نورو ته ورسوي.ټیک ټاک د نوي عصر او نوي ټکنـالوژۍ ایجـاد دی او نوي ځوانان یې تر ډېره په همدې مصروف کړي،چې زیاتره ځوانان له زده کړو هم بې برخې کوي.

**د څېړنې میتود او کړنلاره:** د دې لیکنې بنه ویډیویي،انټرنیټي او کتابتوني ده. د تشریحي، توضیحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

Ketabton.com

**اصله موضوع: د ټیک ټاک پېژندنه**

ټیک ټاک هغه اپلیکشن دی،چې په هغې کې کارکوونکي کولای سي وړې وړې ویډیو ګاني جوړې کړي او په مجازي نړۍ کې یې خپلو مینوالو ته ورسوي. په ټیک ټاک کې تر ډېره د پخلي، نڅا، ټوکې ټکالو او یا هم د ورځني ژوند ځینـې وړې صـحنې ویـډیو کېږي. لـومړی یـادې ویـډیوګانې ثبـت یـا ریکـارډ کېږي او بیـا وروسـته ورسره سـاز یـا موزیـک ورزیـاتېږي. د ټیـک ټـاک کـارکوونکي دانسـټاګرام پـه څېـر کـولای شـي لایـک او کومنـټ واخلي.د یادونې وړ ده،چې د ټیک ټاک اپلیکیشن په چین کې جوړ او په نړۍ راج کوي.**( ۹ )**

**د ټیک ټاک رامنځته کېدا اړتیا**

په اوس وخت کې ټیک ټاک د نړۍ تر ټولو خوښـونکي برنامـه یـا پروګرام دی. د انټرنیـټ پـه نـړۍ کـې یې د ډېرو خلکو پام ځانته راګرځولی دی. ټیک ټـاک تـر دې دمـه پـه امریکـا کـې ۸۰ اتیـا ملیونـه واري او پـه ټولـه نړۍ کې ۸۰۰ اته سوه میلونه ډېر کارکوونکي او مینه وال لري. دا په داسې حال کې ده، چې پـه دې شـماره کـې د چین زیاتره وګړي نه دي شامل.د (Sensor Tower) شرکت د معلوماتو له مخې د ټیک ټاک اپلیکشـن پـه ۲۰۱۸ م کې د۲۰۱۷ م کال په پرتله درې برابره شوی دی.د ټیک ټاک برنامـه پـه ۲۰۱۶م کـال کـې پـه فعالیت پیـل کـړای دی،چې د انسټاګرام او اسنپ چټ په پرتله یې د نړۍ وال بازار تبلیغاتي برخـې پـام هم ځانتـه را اړولـی دی.همدا لامل دی،چې د نـړۍ د ډېـرو مشـهورو فعـالانو او ټـولنیزو مشـهورو څهـرو لکـه جیـک پـاول،جیمي فـالن او ټوني هاوک پام یـې ځانتـه اړولـی او دوی هم د ټیـک ټـاک مینـه وال شـوي دي.د Apptopia شـرکت د راپـور لـه مخـې ټیک ټاک په ۲۰۱۸م کال کې لـه فیسبوک،یوټیوب،اسنپ چټ او انسټاګرام څخـه ډېـر زیـات ډاونلوډ شـوی دی.پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۱۸م کال د اګست په میاشت کې (بایټ دنس) چې د ټیک ټاک د شرکت جوړونکی دی د (Musical.ly) په نوم یو پروګرام یا برنامه چې په ۲۰۱۷م کال کې یې پیرلې وه په ټیک ټاک ورګډه ( مدغمه) کړه.همدا لامل وو،چې ټیک ټاک په امریکا او ټوله نړۍ کې د خلکو د پام وړ وګرځېدو.( ۹ ).

اوس راځو او په دې بحث کوو،چې څه لامل شو،چې ټیک ټاک رامنځ ته شو او په خلکو کې دومره زیات شهرت پیدا کړي؟دا،چې نړۍ د پرمختګ په حال کې ده او هره ورځ نوي نوي ټکنالوژۍ او پرمختګ سره مخ کېږي،نو خلک هم د پرمختګ غوښتونکي دي او غواړي،چې ورځ تر بلې د پرمختګ سره سم قدم ووهي او مخکې ولاړ شي.که لږ مخکې لاړ شو او وګورو،نو لومړۍ راډیو جوړه شوه تحول یې رامنځ ته کړ،بیا وروسې تلویزون،کمپیوټر،انټرنیټ،موبایل،یاهو،جی ایمل،فیسبک،انسټاګرام،سنپ چټ،یوټیوب،ټیوټر.... او اوس ټیک ټاک دا ټول هغه څه دي،چې یو په بل پسې رامنځ ته په ټولنه کې یې ارزښت پیدا کړ.په نړۍ کې ټول خلک او په ځانګړي ډول د نن وخت ځوانان د لا نورو ډېرو پرمختګونو په هیله او ارمان دي.همدا هیله او ارمان د دې لامل کېږي،چې نړۍ وال شرکتونه نوي نوي شیان او اسانتیاوې رامنځ ته کړي.د همدې پرمختګونو او نوښت په لړ کې یوه اړتیا د ټیک ټاک هم وه،چې بازار ته لار پیدا کړي.د ټیک ټاک د رامنځ ته کېدو یو لوی لامل دا وو،چې د امریکا او اروپا بازارونو ته لار پیدا کړي،نو ځکه یې په دې برخه کار وکړ او بلاخره یې د امریکا بازار ته مخه کړه،چې اوس وخت کې په امریکا کې ۸۰۰ میلونه مینه وال لري.بل لامل یې دا و،چې ځوانانو دا پروګرام ډېر خوښ کړ او ورځ تر بلې یې په ټولنه کې اړتیا زیاته شوه.په نړۍ کې د ټیک ټاک زیاتره مینه وال ځوانان دي،چې مختلفې وړې وړې ویډیو ګانې لکه د پخلي،نڅا،د سندور سره خوله خوځول،وړې وړې تمثیلي ټوټې او داسې نورې خپلو مینه والو ته وړاندې او خپل ملګرې زیات کړي.ټیک ټاک په ټوله نړۍ او په ځانګړي ډول په اسیا کې هم ډېر زیات مینه وال پیدا کړي دي.

**ټیک ټاک او ځوانان:**

کله،چې د ټیک ټاک نوم اخلو حتمآ به مو ځوانان او د هغوی کړه وړه او څېرې سترګو ته ودرېږي.نړدې د نړۍ هر ځوان په هره ژبه خپلې وړې ویډوګانې او کلیپونه جوړوي او د ټیک ټاک مجازي نړۍ ته یې سپاري.ټیک ټاک د ځوانانو د زوق او شوق د خړوبولو یوه ډېره ښه او اسانه وسیله ده.د نن نړۍ ځوانان د دې لپاره وخت نه لري،چې لوی لوی کتابونه مطالعه کړي او څه ترې یاد کړي او نه دې ته وخت لري،چې پخوانی فولکلوري کېسې ولولي او واوري.دوی هر څه ډېر ژر او په کم وخت کې غواړي،چې دا کار ورته مجازي نړۍ په ځانګړي ډول ټیک ټاک اسانه کړای دی.د ټیک ټاک سره د ځوانانو بې کچې مینې د دې پروګرام ارزښت نور هم زیات کړای دی. هر هغه ځوک، په ځانګړي ډول ځوانان ،چې ځیرک موبایلونه او یا هم کمپیوټر لري،نو خامخا به د ټیک ټاک لیدلو ته زړه ښه کوي او یو ځل به د ټیک ټاک نړۍ ته سر ورښکاره کوي.ټیک ټاک په ځوانانو کې ډېر رشد او وده کړې ده.

**د ټیک ټاک کارونه:**

که څه هم ټیک ټاک یو نوی اپلیکشن دی او د نړۍ په ګوډ ګوډکې ورسره خلک اشنا دي،د هرې طبقې،هر مذهب او هر ټولنې خلک ترې ګټه اخلي،خو زیاتره کارکوونکي او چلوونکي یې ځوانان،ماشومان او په کمه کچه د پاخه عمر خلک دي.دا اپلیکشن د هر انسان په لاس کاریدی شي او هر ډول،چې وغواړي ګټه ترې اخیستی شي،خو زمونږ زیاتره ځوانان له دې مجازي نړۍ کله کله ناوړه ګټه پورته کوي او په سمه توګه یې نه کاروي.د ټیک ټاک کارونه که څه هم هیڅ ډول بندیز پرې نشته ،خو کوښښ باید وشي په سمه توګه وکارول شي،څو ټولنې ته د زیان پر ځای ګټه ورسوي او زمونږ دا ټولنه د پرمختګ خوا ته روانه کړي.هغه پښتو یوه لنډۍ ده چې وایې:

په سور سالو کې ګناه نشته

ګناه جینۍ کې ده چې رنګه بنګه ځینه

پورته لنډۍ ته په کتو سره ویلی شو،چې په مجازي نړۍ کې هر تحول او بدلونه راځي او د خلکو لاس ته رسیږي په هغې کې ګناه نه وي ګناه،خو یې په هغه کسانو کې وي،چې د ناوړه مقاصدو او ناوړه اخلاقو لپاره یې کاروي.د ټکنالوژۍ هر برخه مثبتې او منفي خواوې لري،که ځوک ترې مثبته ګټه واخلي ګټه یې کړې او که منفي خواته یې مخ کړي،نو په توان کې روان دی،نو په کار ده،چې کوښښ وشي او له دې ټکنالوژۍ سالمه ګټه پورته شي او د ټولنې د اصلاح لپاره ترې کار واخیستل شي.

**د ټیک ټاک ژبه :**

مخکې مو په دې بحث وکړ،چې ټیک ټاک څه شی دی او ولې رامنځ ته شو؟د ټیک ټاک د رامنځ ته کېدو لاملونه که څه هم د ځوانانو مینه وه او د نړۍ مارکیټ ته لاره پیدا کول و،اوس خبره دا ده،چې د دې ټولنیزې مجازي نړۍ ژبه باید څه ډول وکارل شي؟ایا خلکو ته په کې کنځلې وشي؟ایا د خلکو سپکاوی وشي؟ او که د خلکو شخصي حریم ته په کې ورداخل شو؟دې ټولو پوښتنو ته به په دې بحث کې لنډ ځوابونه پیدا کړو.دا،چې ټیک ټاک یوه ټولنیزه شبکه ده او هر ځوک کولای شي لاس رسی ورته پیدا کړي.په هر ډول،چې وغواړي ګټه ترې پورته کړي.زمونږ زیاتره ځوانان په ځانګړي ډول د افغانستان،پاکستان،ایران او هند ځوانان ډېری

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت،چې د ټیک ټاک لپاره کومې وړې ویډوګانې جوړوي د خلکو شخصي حریم ته ورداخلیږي،کنځلې په کې کوي او ډېره سپکه ژبه په کې کاروي.یو بل ته په کې سپکې سپورې او پوچې خبرې کوي.په ټیک ټاک کې ،چې ځومره ویډیوګانې خپریږي که څه هم د طنز په ژبه یې جوړوي،خو کله کله ترې ژبه دومره خرابه شي،چې طنز په کنځلو او پوچو بدل شي.کله کله د ټیک ټاک لپاره په جوړو شو ویډیوګانو کې د ادب اړخ دومره کمزوری شي،چې هره ویډیو د لیدلو وړ نه وي او نه شي کولای،چې په هر ځای کې وکتل شي.زمونږ زیاتره ځوانان که یو خوا ټیک ټاک د پیسو د ګټلو لپاره کاروي،نو بلخوا دې کوښښ وکړي،چې د خپلې ټولنې د سمون او اصلاح لپاره هم په کې پام وکړي او داسې څه ټولنې ته وړاندې کړي،چې ټولنه یې په کتلو ونه شرمیږي.ما مخکې یادونه وکړه،چې د ټیک ټاک ژبه زیاتره وخت طنزي وي.که د طنز تعریف ته وکتل شي هلته چا ته د کنځلو اجازه نشته لکه په دې تعریف کې،چې وایي:(طنز عربي کلمه ده.لغوي معنا یې،نازاو کرشمه،پیغور،مسخره کول او سرنزنش کول ښودل شوي دي). ( ۳ : ۱۹۰ ) .
انګریز ادیب ډاکټر سامویل جانسن وایي: ( طنز هغه ویناده،چې ټولنیز فساد او نادودې تر نیوکې لاندې راځي)).( ۱ : ۱۸۰ ).
((طنز په واقعیت کې هغه ترخه خندا ده،چې د ټولنې د خلکو په ناوړه اعمالو،عاداتو،اخلاقو او افکارو باندې کېږي)) ( ۲ : ۱۱۴).

د طنز په اړه نور ډېر تعریفونه شته،چې دلته یې راوړل زمونږ د موضوع اړخ بل خوا ته وړي.دلته مې د طنز یادونه ځکه وکړه،چې د ټیک ټاک ژبه هم تر ډېره طنزي بڼه لري او زیاتې ویډوګانې د طنز په ژبه ثبت او خپریږي.اوس،چې خبره د طنز ده،نو کوښښ باید وشي داسې ویډوګانې جوړې او خپرې شي،چې هم په ټولنه سالمه نیوکه وشي او هم د کلام عفت په کې وساتل شي.که داسې ونکړو،نو ټولنه به د سالمتیا څخه د بدبختۍ لورې ته روانه کړو او زیاتره ځوانان به مو بدو کارونو او لارو ته هڅولي وي.په نړۍ کې د هرې ژبې ځوانان غواړي په ټیک ټاک جوړنه کې لاس برې اوسي،خو په دې سیمه کې زیاتره د هندي،پښتو،دري او اردو ژبو ویونکي په زړه پورې ویډیوګانې جوړوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي.

**په ټولنه د ټیک ټاک اغیزې:**

د موضوع په دې برخه کې په دې بحث کوو،چې د ټیک ټاک ټولنیزه رسنۍ په موجوده ټولنه کومې مثبتې او منفي اغېزې ښندلې شي.ګټه یې ډېره ده که تاوان؟ ایا خلک او په ځانګړي ډول ځوانان به له ټیک ټاک څخه سمه ګټه واخلي کنه؟دا او دې ته ورته نورې پښتنې به په همدې بحث کې د دوه جلا جلا عنوانو تر سر لیک لاندې وڅېړل شي.

**په پښتنه ټولنه د ټیک ټاک مثبتې اغېزې:**

د نړۍ په هر ګوټ کې د انټرنیټ په مرسته له مجازي نړۍ سره د هر عمر خلک تر ډېره اشنا دي.په اسیا،امریکا،اروپا او افریقا کې تر ډېره له مجازي نړۍ څخه خلک مختلفې ګټې تر لاسه کوي،خو ټیک ټاک په مجازي نړۍ کې هغه اپلیکشن یا وسیله ده،چې د مادي ګټو ترڅنګ یې معنوي ګټې هم ډېرې زیاتې دي.ځینې خلک ټیک ټاک یوازې د تجارتي ګټو لپاره کاروي او له دې لارې ډېرې پیسې تر لاسه کوي.د هر کلتور او فرهنګ خلک یې د خپل کلتور او فرهنګ تر چتر لاندې کاروي او ګټه ترې اخلي.په هند کې د ټیک ټاک کارونه کې پرته له مذهبي بندیزونو، نور هیڅ ډول محدویت او بندیز په کې نه لیدل کېږي.

که ژبه یې هر څومره لوڅه او بربنډه وي،که چا ته په کې هر څومره سپکاوای شوی وي کوم باک او پروا په کې نشته ځکه د هغې ټولنې په فرهنګ او کلتور کې طنز او کومیډي د ډېر ارزښت وړ ده او چاته کوم سپک کار نه ښکاري.همدارنګه که د ځینو سیمو په اړه خبرې وکړو ځینې خلک هم په طنز او کومیډۍ کې د کلام د عفت تر ډېره خیال نه ساتي او هر ډول چې وغواړي خپله ویډویو جوړوي او په ټیک ټاک یې خپروي،خو که خبره د پښتنو سیمو کوو،نو دلته په دې سیمه کې د هر دیني،مذهبي او کلتوري ارزښت ته باید پام وشي او داسې څه باید خپاره نه شي،چې ټولنه کې غبرګونونه وپاروي.تر کومه،چې په پښتنه سیمه د ټیک ټاک د مثبتو اغیزو خبره ده،لکه د نورې نړۍ د وګړو په څېر په پښتنو یې هم تر ډېره مثبتې اغېزې کړي او خلک ترې مثبته ګټه پورته کوي.

دلته به په لنډډول دځینو یادونه وکړو.لومړۍ ګټه،خو دا ده،چې ډېر پښتانه یې په ځینو برخو کې خپلو مسؤلیتونو او کارونو ته متوجه کړي دي،چې په ټولنه کې باید څرنګه ژوند وکړي او د خلکو سره یې راشه درشه او ټولنیز اخلاق څنګه وي.بله ګټه یې دا ده،چې د ټیک ټاک له لارې په ډېرو هغو چاروکو،چې خدمت ته یې شا کړې ده،په هغوی طنز شوی او په ځینو برخو کې یې خپلو مسؤلیتونو ته ځیر کړي دي.همدارنګه په ټولنه کې ځینې خلک شته،چې د نورو خلکو یا مخالف جنس سره تبعیض کوي،چې په ځینو ټیک ټاک پروګرامونو کې د داسې خلکو په وړاندې په تنده طنزي لهجه تر برید لاندې نیول شوي،څو متوجه شي،چې په اسلام کې تبعیض نشته،نو خلک ولې یو تر بله تبعیض کوي.

ځینې داسې ټیک ټاک ویډوګانې هم شته،چې د پښتني سیمې ناوړه دودونونه یې تر برید لاندې نیولې او خلکو ته دا په ګوته کوي،چې دا ډول دودونه انساني ټولنه له بدمرغیو سره مخ کوي.همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلاحي،صحي،سیاسي،ټولنیز،کلتوري او دودیزې ویډوګاني په ټیک ټاک کې د دې لپاره خپریږي،څو وکولای شو مثبته ګټه ترې واخلو.د موضوع په دې برخه کې به د ټیک ټاک ویډیو یوه بېلګه راوړو چې مثبته اغېزه یې څه ده.

**بېلګه:** دغه ۸ ثانیي ویډو چې یو نفر په کې غټه ږیره پریښې او د وعظ او تبلیغ په شکل خپلې خبرې کوي او په لومړیو کې کس فکر کوي،چې دا به کومه ښه مسله بیانوي چې کله یې اخر ته غوږ شي بل څه وي مکالمه یې په لاندې ډول ده.

- زما مشرانو او کشرانو ورونو یوه خبره کوم او هغه دا ده چې دا کله څوک په لارو کوڅو کې جنګ کوي.
- نو مونږ او تاسو له په کار دي،چې مونږ ښه په قراره باندې شاته کینو.
- ځکه ،چې هغه شاته ولاړ کسان هم دا جنګ ښه په مینه وګوري.
- ههههههههههههههههههههه

په پورته مکالمه کې که څه هم د طنز په ژبه یوه لنډه ویډیویي مکالمه ده او ځینې خلک به دا فکر کوي چې دې نفر د کوم مولوي تمثیل کړای او دا یې ښه کار ندی کړای خو په حقیقت کې نوموړې د جنګ نه د نفرت لپاره دا ویډیو جوړه او خلکو ته وړاندې کړې چې دا د طنز په ژبه هغه خلکو ته یوه درنه سپېړه ده چې کله دوه کسان جنګ وي او دوی ورته ولاړ وي او یوازې سیل یې کوي. ( ۴ )

**په پښتنه ټولنه د ټیک ټاک منفي اغېزې**

مخکې مو په دې بحث وکړ،چې د ټیک ټاک ګټه پښتني ټولني ته څه ده،هر څه او هر بدلون په ټولنه کې خپلې مثبتې او منفي اغیزې لري.په ژوند کې هر څه ښه او بد لري.که له ښو یې ګټه او له بدو عبرت واخلو دا به د ټولنې او په ځانګړې ډول د پښتني ټولنې په ګټه وي.پښتنه سیمه له علم او پرمختګ څخه وروسته پاتې سیمه ده.دلته که هر ډول بدلون راځي ډېر دقت او پام ورته وشي.په پښتنه سیمه کې له مثبتو ګټو منفي ته ډېر ژر پام اړول کېږي.ښه بیلګه یې د کوزې پښتونخوا پښتو فلمونه دي،چې په هغې کې ټول منفي کرکټرونه په پښتنه سیمه کې ډېر ژر عام او رواج شو.همدارنګه که ټولنیزو رسنیو ته سر ښکاره کړو،ډېری وخت په کې د ښو خبرو پرځای یو بل ته پر کنځلو او پوچو خبرو بوخت وي.اوس که راشو د ټیک ټاک پر منفي اغېزو خبرې وکړو،نو ګورو ،چې دې نوې ټکنالوژۍ په پښتنه سیمه منفي سیوری هم غوړولی او زمونږ زیاتره ځوانان د ښو ویډیوګانو پر ځای بدې او ناکاره ویډګاني جوړوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي،چې دې کار زمونږ په ټولنه او سیمه ناوړه اغېزه کړې ده.دلته د بیلګې په توګه د ټیک ټاک یوه نمونه راوړو او ګورو چې کوم ډول الفاظ کاروي او موخه یې ترې څه ده.

**بېلګه:**

دوه کسان چې یو یې ولاړ او بل یې روان وي دا ولاړ کس روان ته وایي چې ای دلته راشه.. نوره مکالمه یې په لاندې ډول ده.

۱: ای دا راته ووایه دا تشناب ته د تلو دعا څه ده؟

۲: یاره امر صاحب که رښتیا راباندې وایې مونږ د کلي خلک یو د خپل حاجت لپاره پټیو ته ځو. په ټټیو یا کینارب کې خخخههههههههههههه ( ۵ ) .

که پورته مکالمې ته وګور په پښتنه ټولنه کې په ښکاره ډول داسې الفاظ کارول یو عیب ګڼل کېږي او څوک په کوم مجلس کې ناست وي او دا ډول خبرې او مکالمې کوي د خلکو په وړاندې سپک ښکاري،چې همدا یې په ټولنه بده اغېزه ده.

**بېلګه:**

یا که دا لاندې نمونه وګور:

په دغه لاندې ویډیو کې دوه کسان یو د پلار او بل د ځوی تمثیل کوي او مکالمه یې په ۱۲ ثانیو کې په لاندې ډول تماميږي.

۱: یاره خان بابا که چیرته میلونر شوې ته به په دې دومره روپو څه وکړې؟

۲: بچی! دوبی،لندن،شراب او کباب.... او عیاشي پرې کوم.

۱: او که خدای یې درنه بیرته واخلي ؟

۲:نو بیا د کوټې کونج،شنه نسوار او ستا ابی.

۱: یاره پلاره ته هم ډېر وران یې. ( ۶).

که پورته مکالمه وکتل شي،یو ډول د نوې ځوان کهول په ذهن کې دا خبره پیچکاري کوي،چې که پیسې دې پیدا کړې،نو بیا پرې شراب،کباب او عیاشي کوه او که مفلس وې او څه درسره نه وو،نو بیا ښه انسان اوسه او د مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پلار په خوا کي وخت تيروه.چي همدا يوه بده او ناوړه اغېزه ده ،چي په ځوانانو يې کوي.په دې برخه کې نورې ډېرې پوچې او سپکې ويډيو ګانې شته چې نه غواړم دلته يې يادونه وکړم ځکه چې هغه الفاظ دومره پوچ او خراب دي،چې زما قلم يې ماته د ليکلو اجازه نه راکوي،نو ځکه په همدې بېلګو بسنه کوم.

**پښتو ادب ته د ټيک ټاک ګټه:**

که څه هم مونږ مخکې په دې بحث وکړ،چې ټيک ټاک د ځوانانو دخوښيو يوه وسيله ده او په ټولنه کې ترې ډېرې ځوانان خپل ذوق خړوبوي.همدارنګه د پيسو او مارکيټ وسيله هم ده ځکه چې ډېر ځوانان د همدې لارې ډېرې پيسې ګټي او همدې ته يې کار ويلی دی.د دې ټولو خبرو سربېره پښتو ادب ته يې ګټه دا ده،چې په ډېرو کمو خبرو کې د طنز په ژبه يو انسان کولی شي خپله خبره زرګونو کسانو ته ورسوي.پخوا به طنز يا په کتاب کې وليکل شو او همداسې به پاتې شو او يا به کله کله د سټيج په سر د څو کسانو په مخ کې يو څوک ودريده او خپلې خبرې به يې ورته واورولې،خو اوس د ټيک ټاک په مرسته هر څوک،هر چا ته خپله خبره او نيوکه په ډېرې اسانۍ سره کولی شي.همدارنګه پښتو ادب ته يې بله ګټه دا ده،چې لکه د ډرامې،تمثيلي ټوټې او نورو ژانرونو په څېر دا برخه هم مخ په غوړيدو ده او په څو ثانيو کې د مطلب خبره خپل مخاطب ته رسيږي.همدارنګه د ټولنې منفي او مثبتې خواوې هم په کې اصلاح کېږي.بله ګټه چې پښتو ادب او ژبې ته يې رسوي هغه دا ده،چې په نثر او نظم دواړو کې دا برخه غني ده،ژبه يې ډېره ساده،روانه او عام فهمه ده.هر څوک کولی شي تر خپلې سويې ترې برداشت واخلي.که په ټوله کې خبره راټوله کړو،د دې نوي اپليکشن په رامنځ ته کېدو سره هم په ځوانانو کې تحول رامنځ ته شوی او هم يې پښتو ژبې ته په يو ډول نه يو ډول ګټه رسيږي،ځکه،چې دا ويډيو ګانې په ټوله نړۍ کې خپريږي او هغه خلک چې پښتو نه پېژني هم ترې خبرېږي.د ټيک ټاک ځينې نورې بېلګې هم وړاندې کوو.

لومړۍ بېلګه: په لاندې ويډيو کې دوه کسان يو د پلار او بل د ځوی تمثيل کوي او په څو ثانيو کې يوه وړه ويډيو جوړوي او خپلې مکالمې داسې پيل کوي.

۱:دا رته ووايه

۲:اهه

- KING DOM ,KING Dom1: څه ته وايې؟

2 :کينګ ډمممممممم

1 :ژر ووايه.

2: اههههههه کينګ ډم دا خو اسان سوال دی پلاره کوم بل سخت سوال رانه وکړه.

1:دا وايه دا کينګ ډم څه ته وايي؟

2:کينګ ډم درته ووايمه .

1:هو کينګ ډم راته ووايه.

2 :نو دا کينګ ډم نو دا کينګ په انګليسي کې باچا ته وايي او ډم - ډم ته وايي.معنی يې دا پاچا او ډم وو..هههههههههههههه ( ۷ ).

دويمه بېلګه:

په لاندې مکالمه کې يو نفر د شعر په ژبه يوه وړه ټيک ټاک ويډيو جوړه کړې او مکالمه يې په لاندې ډول کړې ده.

- هغې ويل د جنګ سره مينه زياتيږي.
- ما ويل ښه څه چې نن يې و ازمايو
- درې څلور سوکه مې ووهله د کافر لور بې هوشه شوه.
- راته ښکارې مينه پرې زياته شوه

دريمه بېلګه: يوه بله وړه ۶ ثانيي ويډيو چې يو هلک موبايل په لاس کې دی د موبايل مايک کې وايي چې:

۱:هوکې ګوګل زما واده کله دی؟

بل نفر چې د ګوګل تمثيل کوي ورته وايي

۲: زه.... ګوګل يم ستا نيا نه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورمه بېلګه

دغه لاندې ويډيو ۱۲ ثانيي ويډيو کې دوه کسان چې يو يې له ځانه ساده جوړ کړای دا بل ترې پوښتنه کوي،چې ولې خفه ناست يې ؟ دويم کس ورته په ځواب کې وايي،چې زه يوې نجلۍ سره مينه لرم هغه راته هر وخت وايي چې ای لاو يو ټو .دلته هلک دا مطلب اخستی وي چې د ټو مطلب دويم دی حال دا چې په انګليسی کې د ای لاو يو ټو معنی ده زه هم له تا سره مينه لرم. چې مکالمه يې په لاندې ډول ده.

۱: يا هلکه ولې خفه ناست يې؟

۲: مېنه زما يوه جنۍ خوښه ده او هغه يې نه مني.

۱: ولې څه وايي.

۲: مېنه هر وخت راته وايي I LOVE U TOO. اوس معلومه نه ده چې دا دويم کس څوک دی چې دا جنۍ ورسره مينه لري.مېنه.

پنځمه بېلګه

په دغه ۱۴ ثانيي ټيک ټاک ويډيو کې دوه هلکان ناست دي،چې يو سره په لاس کې موبايل دی او د ژورناليست دنده پر مخ بيايي او بل ته يې خولې ته ميک نيولی وي او په لاندې ډول ورسره مکالمه کوي.

۱:وروره ته ولې داسې بې حاله ناست يې؟

۲:واده په کار دی واده واده.۲۰۲۰ راغی او غريب تباه دی.

۱:ستا حکومت نه څه غوښتنه ده؟ سترګې دې چا ته دي؟

۲:سترګې خو مې جنکو ته دي.

۱: ههههههههههههههه (۸).

**پايله**

دا ځرګنده خبره ده،چې کله ژوند پرمخ ځي،نو نوي وسايل او نوې ټکنالوژي رامنځ ته کېږي.هر عصر او هر دور ځانله جلا جلا پرمختګونه او لاس ته راوړنې لري،چې په اوسني عصر کې د ټيک ټاک د راتګ سره د ځوانانو په ژوند کې ډېر تغير او بدلون ليدل کېږي.ټيک ټاک هغه وسيله ده،چې هر څوک کولی شي،ډېره وړه او په زړه پورې ويډيو جوړه او خپلو مينه والو ته يې وړاندې کړي.په پښتنه ټولنه يې مثبتې او منفي اغېزې زياتې دي.پښتانه ځوانان زياتره د خپلو سيمو دودونه په ټيک ټاک کې وړاندې کوي.ټيک ټاک هغه اسانه وسيله ده،چې د هرې سيمې له احواله مو خبروي.د هر عمر او هر جنس خلک ټيک ټاک کاروي اويا يې ګوري،خو زياته برخه يې د ځوانانو او نجونو ده.د دې لارې ادب ته دا ګټه رسيږي،چې ډېر کليوالي او ولسي ادب او رواجونه ثبت او وړاندې کېږي.


**ماخذونه:**

۱- ميمنت،ميرصادقي،ذولقدر واژه نامه هنري شاعري،دويم چاپ،۱۳۷۶ ل.

۲- هاشمي،سيد محی الدين،د ليکوالی فن،لسم چاپ،ميرويس خپرندويه ټولنه،پېښور،۱۳۹۳ ل.

۳- هاشمي،سيد محـی الـدين،د نثـري ادب ډولونـه،د علومـو اکـاډمي د اطلاعـاتو او عامـه اړيکـو رياسـت،همايون مطبعه،کابل،۱۳۹۴ ل.

۴- @abdurahim44

۵- @user121069707046572

۶@Javedveeera786

۷- Khalifa_khan????

۸- TIKTOK STORE /PASHTO FUNY VIDIOS

۹- https//www.plaza.ir/mag

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**